# جریده میــــزان

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش


**د هستی نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې ايښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تیری ونه کړئ.
زیاتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وي ، نو د نړۍ ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام ، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کیده.
تفسیر کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳


پنج شنبه ۴ غبرګولی ۱۴۰۲ هـ ش | ۵ ذوالقعدة الحرام ۱۴۴۴ هـ ق | ۲۵ می ۲۰۲۳ م | مسلسله شمیره (۳٤)


## د سترې محکمې د عالي شورا ۲۳مه غونډه ترسره شوه

چهارشنبې (۱۴۴۴/۱۰/۲۰ هـ ق)نېټه د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د رئیس او قاضي القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د عالي شورا ۲۳مه غونډه ترسره شوه.
د سترې محکمې د عالي شورا په دې ناسته کې چې د سترې محکمې د رئیس او قاضي القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب په مشرۍ جوړه شوې وه د عالي شورا غړو محترم شیخ محمدقاسم (راسخ)صاحب، محترم شیخ عبدالمالک (حقاني) صاحب، محترم شیخ خیرجان (خیرخواه) صاحب، محترم شیخ محمد شریف (حقاني) صاحب او محترم مفتي عبدالرشید (سعید) صاحب ګډون درلود.
د عالي شورا په دې ناسته کې د غونډې په اجنډا کې د شاملو نهو (۹) مهمو موضوعاتو په اړه تر تفصيلي خبرو وروسته د یادو موضوعاتو اړوند فیصلې صادرې شوې.
د سترې محکمې د عالي شورا دغه ناسته د دعاء په ویلو سره پای ته ورسېده.

## د سترې محکمې د جزا دیوان عمومي رئیس د هیواد پنځو ولایتونو ته سفر وکړ

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د جزا دیوان عمومي رئیس محترم مفتي عتیق الله (درویش) ولایتونو ته د رسمي سفرونو په دوام د روان ۱۴۴۴ هـ ق کال د شوال میاشتې په ۴مه نېټه، له نږدې څخه د زندانونو د لیدنې او د یو شمېر مهمو دوسیو د څېړنې لپاره د هیواد پنځو ولایتونو (بدخشان، تخار، کندوز، بغلان او سمنګان) ته سفر وکړ.
د سترې محکمې د جزا دیوان عمومي رئیس د دغه (۱۳) ورځني سفر په ترځ کې د یادو ولایتونو د مرافعه محاکمو پر رئیسانو سربېره د محاکمو له یو شمېر نورو قضائي کارکوونکو سره وکتل، هغوی ته یې په ټاکلي وخت د دوسیو د حل او فصل په اړه ټینګار وکړ.
دغه راز محترم مفتي عتیق الله (درویش) د یاد هر ولایت په زندانونو کې له نږدې څخه د موجوده بندیانو د وضعیت او احوال پوښتنه وکړه، د هغوی ستونزې او نظرونه یې واورېدل.
پر دې سربېره د سترې محکمې د جزا دیوان عمومي رئیس د خپل سفر په جریان کې د یادو ولایتونو اړوند (۱۰) مهمې جزائي دوسیې هم له نږدې وڅېړلې.
د یادونې وړ ده چې د سترې محکمې د جزا دیوان عمومي رئیس محترم مفتي عتیق الله (درویش) له لاسته راوړنو ډک له دغه رسمي سفر تر پای ته رسېدو وروسته په (۱۴۴۴/۱۰/۱۷ هـ ق) نېټه بېرته کابل ته راستون شو.

## د سترې محکمې د قضائي پلټنې عمومي ریاست پلاوي د کابل ولایت د محاکمو د اجراآتو څېړنه وکړه

د سترې محکمې د محترم رئیس او قاضي القضات شیخ عبدالحکیم (حقاني) حفظه الله په هدایت د قضائي تفتیش د عمومي رئیس مفتي محمدابراهیم جان (ابوالحفاظ) په مشرۍ یوه پلاوي چې په تشکیل کې یې مولوي عبدالولي (مصباح)، مولوي عبدالبصیر(غزنوي)، مولوي عبدالوارث (سعید)، مولوي روزي محمد(زمیل)، مولوي سیف الرحمن (ذاکر)، مولوي ضیاإلرحمن (عاصم)، مولوي عطاءالله (انوش) او مولوي عبدالرحمن (مخدوم ) موجود وو، د ١٤٤٤ هجري قمري کال د رمضان میاشتې په (۷)مه نېټه د کابل ولایت د محاکمو د تېرو فعالیتونو پر څېړنې او د کابل ولایت له زندانونو او توقیف خونو لیدنه وکړه.
د یاد پلاوي د خپلې کاري کړنلارې له مخې د یاد ولایت د (١٤) ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو او د کابل ولایت د مرافعه محکمې اړوند ټولو دیوانونو څخه او ورپسې یې د یاد ولایت د ښاري محاکمو د ریاستونو اړوند دیوانونو څخه په جلا، جلا توګه لیدنه اوڅېړنه وکړه.
د سترې محکمې د قضائي تفتیش یاد پلاوي په کابل ولایت کې د اختصاصي، نظامي، تجارتي الف او ب، نشه يي موادو، بانکي او مالیاتي محاکمو دوسیې، دفتري کارونه او اجراآت وڅېړل.
یاد پلاوي د محاکمو د تېر یوه کال کړنې په دقیقه او هراړخیزه توګه بررسي کړې او د مثبتو نقاطو ستاینه یې وکړه، په قضائي او اداري کړنو کې یې خلاوې او نواقص ورته په نښه کړل او په اړه یې مربوطه مسؤلینو ته لازمې توصیې وکړې.
همدا راز د سترې محکمې د قضائي پلټنې عمومي ریاست پلاوي د یاد ولایت له زندانونو او توقیف خانو څخه لیدنه وکړه، په یادو زندانونوکې یې نارینه، ښځینه، ماشومان او له دغه جملې څخه یې سرنوشته بندیان تشخیص کړل، له مربوطه محاکمو سره یې د هغوی په اړه لازم تصمیمونه ونیول، همدا راز یې د ټولو بندیانو ستونزې له مربوطه ادارو سره شریکې کړې او په اړه یې ورته لازمې توصیې او لارښوونې وکړې.
د نوموړي هیئت د پلټنیز بهیر په جریان کې د یادو محاکمو د قضائي او اداري چارو هراړخیزه پلټنه ترسره شوه، چې د محاکمو د قضائي او اداري کارکوونکو د سلوکي او مسلکي اړخونو په اړه یې بشپړ معلومات ترلاسه کړل او د چارو د لا سمون په برخه کې یې ورته لازمې لارښوونې وکړې.
د قضائي تفتیش دغه هیئت د محاکمو اړوند شته ستونزې او کاري خنډونه له ځان سره نوټ کړل او په لومړي قدم کې یې د ښاري محاکمو په دیوانونو کې شته ستونزې د ښاري محاکمو له رئیسانو سره شریکې کړې، ورپسې یې د ستونزو د هوارې، د خنډونو له منځه وړلو او د نیمګړتیاوو د اکمال په اړه د کابل ولایت د محاکمو له رئیسانو سره تفاهمي ناسته ترسره کړه.
دغه پلاوی د کابل ولایت په مخزن کې د شاوخوا (۱۱۰۰۰) مختلف النوع وثایقو څخه لیدنه او څېړنه وکړه.
له بله پلوه د سترې محکمې د عالي مقام د هدایت په اساس د قضائي پلټنې عمومي ریاست د بندیانو د ارزونې په کمېسیون کې دغړیتوب او د یاد کمېسیون د ارزونې له مخې د رمضان مبارکې میاشتې په جریان کې د بې سرنوشته یا هغه بندیان چې جرم یې کم وو او په توقیف کې یې ډېر وخت تېرشوی وو، د خوشې کولو په هکله ګډ تصمیمونه ونیول.
دغه راز د قضائي تفتیش مسلکي غړو د عادي پلټنې پر مهال په یاد ولایت کې (١٦) اقتضائي موضوعاتو ته رسیدنه وکړه.
یاد پلاوي د محاکمو په وړاندې شته ستونزې او د خلکو شکایتونه په دقیقه او هراړخیزه توګه وڅېړل.
د قضائي تفتیش د پلټنې هیئت د ١٤٤٤ هجري قمري کال د شوال میاشتې په (١٧) نېټه خپل پلټنیز بهیر په داسې حال کې چې له لاسته راوړنو ډک وو، پای ته ورساوه.



### په نبوي دوره کې قضاء

**درېیمه برخه:**

او دا هم لازمي خبره ده چې د دواړو دعوه کوونکو په کښېنولو کې به توپیر نه کول کیږي، چې یو تر هغه بل قاضي ته نږدې او یا لوړ ځای ناست وي او د دعوه کوونکو د کښېنولو ښه طریقه دا ده چې دواړه قاضي ته مخامخ کښېني، دلیل مو د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) پورته ذکر شوي حدیث شریف دی، نو بیا د دې له لارې د قانون جوړونکي ښه حاکمیت څرګندیږي او د هغه په وړاندې د کشرانو د احساس پوره درک او د دوی تر منځ مساوات پوره ترلاسه کېږي.
همدارنګه رسول الله صلي الله علیه وسلم د اختلاف کوونکو تر منځ د خبرو، کلماتو او اشارې په برخه کې د انصاف پر اړتیا ټینګار کړی دی. او په دې اړه دار قطني د ام سلمی (رضي الله عنها) حدیث را نقل کړی دی، چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي:
ژباړه: څوک چې د مسلمانانو په منځ کې قضاوت کوي، نو د دوی ترمنځ دې په ناستي، اشارې او کتلو کې انصاف وکړي. [دار القطني رقم(۴۴۶) کتاب في الأقضية والأحكام وغير ذلک]
اخذلیک: تتمة النظام، ۲٦ــ۲۷ صفحه، تألیف: قاضي القضات شیخ عبدالحکیم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحیم راشد

# گزارش‌های اجراآت قضائی محاکم برخی از ولایات کشور

## طی دو هفته در محاکم ابتدائیهٔ زون های چهارگانهٔ شهری و محکمهٔ ابتدائیهٔ تجارتی شهر کابل به تعداد(۳۱۶) دوسیه حل و فصل گردیده است

گزارش توحیدی از اجراآت دو هفته‌ی بخش‌های جزائی، حقوقی و تجارتی دواوین مربوطهٔ محاکم ابتدائیهٔ زون های اول، دوم، سوم، چهارم شهری و محکمهٔ ابتدائیه تجارتی شهر کابل از تاریخ ۱۴۴۴/۱۰/۱ هـ ق الی ۱۴۴۴/۱۰/۱۵ هـ ق به شرح ذیل مواصلت ورزیده است.

**۱. در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۷۲)دوسیه به دواوین محاکم ابتدائیه چهار زون شهر کابل مواصلت ورزیده‌است؛ در حالی‌که قبلاً چند دوسیه دیگر نیز چند موجود بود.

که از آن جمله به تعداد (۶۵) قضیه فیصله شده ، در رابطه به (۶۴) دوسیه طی قرار قضائی تصمیم اتخاذ گردید، (۳۲) دوسیه دیگر طی مکتوب مسترد گردیده است و متباقی آن تحت دوران قرار دارد.

**۲. در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۳۴) دوسیه به دواوین محاکم ابتدائیه چهار زون شهر کابل مواصلت ورزیده‌است؛ در حالی‌که قبلاً چند دوسیه دیگر نیز موجود بود.

از آن جمله به تعداد (۱۴) قضیه فیصله شده، در رابطه به(۷۳) دوسیه طی قرار قضائی تصمیم اتخاذ شده، (۶) دوسیه دیگر طی مکتوب مسترد گردیده است، متباقی آن تحت دوران قرار دارد.

**۳. در بخش تجارتی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۲۳) دوسیه به دواوین الف،ب ،و بانکی و مالیاتی محکمه ابتدائیه تجارتی شهر کابل مواصلت ورزیده‌است؛ در حالی‌که قبلاً چند دوسیه دیگر نیز موجود بود.

از آن جمله به تعداد (۱۲) قضیه فیصله شده، (۱۰) دوسیه طی قرار قضائی تصمیم اتخاذ و (۴۰) دوسیه دیگر طی مکتوب مسترد گردیده است، متباقی آن تحت دوران قرار دارد.

## دکابل ښار د اسنادو او وثایقو شپږو آمریتونو په دوو اونیو کې (۶۳۱) بیلا بیلې وثیقې اجرأکړې دي

له ۱۴۴۴/۱۰/۱ هـ ق الی ۱۴۴۴/۱۰/۱۵ هـ ق نېټې د کابل ښار د اسنادو او وثایقو د ثبت د شپږو آمریتونو د اجراآتو راپور په لاندې شکل دی:

**۱. د لومړي حوزې د اسنادو او وثایقو د ثبت آمریت:**

د لومړي حوزې د اسنادو او وثایقو د ثبت آمریت د دوو اونیو په جریان کې (۱۱۰)جلده نکاح خطونه او (۳۵) قطعې نورې بېلا، بېلې وثیقې اجرأکړې دي.

**۲. د دویمې حوزې د اسنادو او وثایقو د ثبت آمریت:**

د دویمې حوزې د اسنادو او وثایقو د ثبت آمریت د دوو اونیو په جریان کې (۵)جلده نکاح خطونه او (۵۶) قطعې نورې بېلا، بېلې وثیقې اجرأکړې دي.

**۳. د درېیمې حوزې د اسنادو او وثایقو د ثبت آمریت:**

د درېیمې حوزې د اسنادو او وثایقو د ثبت آمریت د دوو اونیو په جریان کې (۱۰۷) جلده نکاح خطونه او (۲۳) قطعې نورې بېلا، بېلې وثیقې اجرأکړې دي.

**٤. د څلورمې حوزې د اسنادو او وثایقو د ثبت آمریت:**

د څلورمې حوزې د اسنادو او وثایقو د ثبت آمریت د دوو اونیو په جریان کې (۱۸۲) جلده نکاح خطونه او (۲۷) قطعې نورې بېلا، بېلې وثیقې اجرأکړې دي.

**۵. د پنځمې حوزې د اسنادو او وثایقو د ثبت آمریت:**

د پنځمې حوزې د اسنادو او وثایقو د ثبت آمریت د دوو اونیو په جریان کې (۲۷) جلده نکاح خطونه اجرأکړې دي.

**٦. د شپږمې حوزې د اسنادو او وثایقو د ثبت آمریت:**

د شپږمې حوزې د اسنادو او وثایقو د ثبت آمریت د دوو اونیو په جریان کې (۵۱) جلده نکاح خطونه او (۸) قطعې نورې بېلا، بېلې وثیقې اجرأکړې دي.

## محاکم ولایت بغلان طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۲۳٤) دوسیه، به تعداد (٦۳) قطعه وثایق نیز اجرأکرده است

توحید گزارش راپور دوسیه جات وثایق ریاست محکمهٔ مرافعهٔ ولایت بغلان از تاریخ ۱٤٤٤/۱۰/۱ هـ ق الی ۱٤٤٤/۱۰/۱٥ هـ ق شامل اجراآت دواوین مرافعه، وثایق، محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی ها و محکمهٔ ابتدائیه شهری به شرح ذیل تحریر است:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۳۱٥) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۹) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، پیرامون (۱٤۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳٤) دوسیه فیصله گردیده و متباقی دوسیه ها تحت کار می باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۰۰) دوسیه وارد محاکم گردیده در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (٦) دوسیه مکتوبی مسترد شده، پیرامون (۲۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۰) دوسیه فیصله گردیده و متباقی تحت کار میباشد.

**در بخش وثایق:**

در مدت ذکرشده به تعداد (٦۳) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرأگردیده است.

## طی دو هفته در محاکم ولایت پروان علاوه بر حل و فصل (۷٦) دوسیهٔ حقوقی و جزائی، به تعداد (۸۲) قطعه وثایق اجرأ شده است

توحید گزارش را پور دوسیه جات وثایق ریاست محکمهٔ مرافعهٔ ولایت پروان از تاریخ ۱٤٤٤/۹/۲۲ هـ ق الی ۱٤٤٤/۱۰/۷ هـ ق شامل اجراآت دواوین مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی ها به شرح ذیل مواصلت ورزیده است.

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۸۰٤) دوسیه وارد محاکم گردیده است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۹) دوسیه مکتوبی مسترد شده، پیرامون (۲۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۱) دوسیه فیصلهٔ اجراآت گردیده و متباقی دوسیه ها تحت کار میباشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد ( ۲۲۷) دوسیه وارد محاکم گردیده است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۳) دوسیه مکتوبی مسترد شده، پیرامون (۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده،(۲٥) دوسیه فیصلهٔ گردیده و متباقی دوسیه ها تحت کار میباشد.

**در بخش وثایق:**

همچنان در این مدت به تعداد (۸۲) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراء گردیده است.

## محاکم ولایت کندز در جریان ماه حمل علاوه بر حل و فصل (٦۲٦) دوسیه به تعداد (٥۱۸) وثایق نیز اجرأکرده است

گزارش اجراآت برج حمل سال ۱٤۰۲ محاکم مربوط ریاست عمومی محکمهٔ مرافعهٔ کندز به شرح ذیل مواصلت ورزیده است:

**بخش حقوقی:**

در برج حمل به تعداد (٤۷٥) جلد دوسیه وارد محاکم گردیده است؛ در حالی‌که قبلاً نیز چندین دوسیه موجود بود.

از آن جمله به تعداد (۹۹) جلد دوسیه فیصله شده، پیرامون (۲٤٥) جلد دوسیه قرار قضائی صادر شده، به تعداد (٤۳) جلد دوسیه طی مکتوب مسترد گردیده و متباقی دوسیه ها تحت غور محاکماتی قرار دارد.

**بخش جزائی:**

در برج حمل به تعداد (۱۹۱) جلد دوسیهٔ جزائی وارد محاکم‌گردیده است؛ در حالی‌که قبلاً نیز چندین دوسیه موجود بود.

از آن جمله به تعداد (۱۰٦) جلد دوسیه فیصله شده، پیرامون (۱۱٤) جلد دوسیه قرار قضائی صادر شده، به تعداد (۱۹) جلد دوسیه طی مکتوب مسترد گردیده و متباقی دوسیه ها تحت غور محاکماتی قرار دارد.

**بخش وثایق:**

در برج حمل سال ۱٤۰۲ هـ ش در آمریت ثبت اسناد و وثایق و محاکم ولسوالی ها به تعداد (٥۱۸) قطعه وثایق مختلف النوع برای مراجعین ترتیب و تقدیم گردیده است.

## در مدت دو هفته در محاکم ولایت غور علاوه بر حل و فصل (٥٦) قضیه (۷۱) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرأ شده است

توحید گزارش راپور دوسیه‌جات و وثایق ریاست محکمهٔ مرافعهٔ ولایت غور از تاریخ ۱٤٤٤/۹/۲۲ هـ ق الی ۱٤٤٤/۱۰/٦ هـ ق شامل اجراآت دواوین مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری، محکمهٔ نظامی و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها به شرح ذیل مواصلت ورزیده است:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد(٤٥)دوسیه حقوقی وارد محاکم گردیده‌است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران محاکم قرارداشت.

از آن جمله (٤) دوسیه طی مکتوب مسترد شده، پیرامون (٦) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۷) دوسیه فیصلهٔ گردیده و متباقی دوسیه ها تحت کار می‌باشد .

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۳۳) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم‌گردیده است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرارداشت.

از آن جمله (٤) دوسیه مکتوبی مسترد شده، پیرامون (۱)دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱٤)دوسیه فیصلهٔ گردیده است و متباقی دوسیه ها تحت کار می‌باشد.

و همچنان در این مدت به تعداد (۷۱) قطعه وثایق مختلف النوع اجراء گردیده است.

## طی یک ماه محاکم ولایت تخار علاوه بر حل و فصل (۳٥٦) دوسیه، به تعداد (۳۷۳) قطعه وثایق نیز اجرأکرده است

گزارش اجراآت یک ماههٔ برج رمضان المبارک ۱٤٤٤ هـ ق دیوان های ابتدائیه و استیناف، آمریت ثبت اسناد و وثایق و محاکم ولسوالی های شانزده گانهٔ ولایت تخار به شرح ذیل مواصلت ورزیده است.

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه گذشته به تعداد (۲٤۳) قضایای حقوقی مورد رسیدگی قرارگرفته است.

از آن جمله به تعداد(٦٦) جلد دوسیه توسط فیصله شرعی بررسی شده، به تعداد (۱٥٤) جلـــد دوسیه توسط قرارقضائی حل گردیده است، به تعداد(۲۳) جلد دوسیه ذریعهٔ مکتوب به مراجع مربوطه راجع گردیده و متباقی دوسیه هاکه از قبل نیز وجودداشت تحت کار می باشد.

**بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد(۱۱۳)جلد دوسیه های جزائی مورد رسیدگی قرارگرفته است.

از آن جمله (٥۳) دوسیه فیصله شده، پیرامون (٥۷) جلد دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳) جلد دوسیه ذریعهٔ مکتوب رسمی به مراجع مربوطه محول گردیده و متباقی دوسیه ها تحت کار می باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه به تعداد (۳۷۳) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرأگردیده است.

## محاکم ولایت سمنگان در جریان یک ماه علاوه بر حل و فصل (۱۱۸) دوسیه به تعداد (۷۲) قطعه وثایق نیز اجرا کرده است

گزارش اجراآت یک ماه ریاست عمومی محاکم مرافعه ولایت سمنگان از تاریخ ١٤٤٤/٩/١٠ الی ١٤٤٤/١٠/٦ هـ ق که شامل دواوین مرافعه، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری، آمریت ثبت اسناد وثایق و مخزن، و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌های این ریاست در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق قرار ذیل میباشد.

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (٥٩) دوسیه وارد محاکم گردیده است؛ در حالیکه چندین دوسیه نیز قبلاً تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (٢٤) دوسیه فیصله شده، پیرامون (٤٢) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (٧) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه ها تحت کار می باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (٣٣) دوسیه وارد محاکم گردیده است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (٢٠) دوسیه فیصله شده، پیرامون (٢٣) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (٢) دوسیه مکتوبی مسترد شده است و متباقی دوسیه تحت کار میباشد.

و همچنان در مدت ذکرشده به تعداد (٧٢) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراء گردیده است.

## محاکم ولایت فراه در دو هفته علاوه بر حل و فصل (۲۰۴) دوسیه، به تعداد (۲۰۱) قطعه وثایق نیز اجرأ کرده است

توحید گزارش راپور دوسیه جات وثایق ریاست محکمهٔ مرافعه ولایت فراه از تاریخ ۱۴۴۴/۱۰/۹هـ ق الی ١٤٤٤/١٠/٢١ هـ ق شامل اجراآت دواوین مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی ها به شرح ذیل مواصلت ورزیده است .

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد(۴۰) دوسیه حقوقی حل و فصل شده و چندین دوسیه دیگر تحت دوران میباشد.

از آن جمله (۳) دوسیه مکتوبی مسترد شده، پیرامون (۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده و (۲۸)دوسیه فیصلهٔ گردیده است.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۰۳) دوسیه حل و فصل شده است.

که از آن جمله (۴) دوسیه مکتوبی مسترد شده، پیرامون (۲۹) قرار قضائی صادر شده و (۷۰)دوسیه فیصلهٔ گردیده است.

همچنان در مدت مذکور به تعداد (۲۰۱) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراء گردیده است.

## محاکم ولایت بلخ در جریان (۱۰)روز علاوه بر حل و فصل (۲۳۹) دوسیه، به تعداد (۲۸۱) وثایق نیز اجرأ کرده است

توحید گزارش راپور دوسیه جات وثایق ریاست محکمهٔ مرافعهٔ ولایت بلخ از تاریخ ١٤٤٤/١٠/٤ هـ ق الی ١٤٤٤/١٠/١٤ هـ ق شامل اجراآت دواوین مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری، محکمهٔ نظامی زون شمال و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی ها بشرح ذیل مواصلت ورزیده است:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (١٠١) دوسیه وارد محاکم گردیده است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرارداشت.

از آن جمله (١٩) دوسیه مکتوبی مسترد شده، پیرامون (٦١) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (٤٣) دوسیه فیصلهٔ گردیده و متباقی دوسیه ها تحت کار میباشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (١٠٠) دوسیه وارد محاکم گردیده است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرارداشت.

از آن جمله (٩) دوسیه مکتوبی مسترد شده، پیرامون (٣٨) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (٣٤) دوسیه فیصلهٔ گردیده و متباقی دوسیه ها تحت کار میباشد.

**در بخش تجارتی:**

در جریان دو هفته به تعداد (٣٨) دوسیه وارد دیوان های مربوطه گردیده است؛ درحالیکه قبلاْ نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (١٣) دوسیه مکتوبی مسترد شده، پیرامون (١٧) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (٥) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه ها تحت کار میباشد.

**در بخش وثایق:**

همچنان در این مدت به تعداد (٢٨١) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرأ گردیده است.

## د اروزګان د مرافعه محکمې د رئیس په مشرۍ قضائي او اداري ناسته ترسره شوه

په ۲۱/ ۱۰ /۱۴۴۴ هـ ق نېټه د اروزګان ولایت د مرافعه محکمې په تالار کې د دې محکمې د عمومي رئیس محترم شیخ سخیداد (ابوالتقی) په مشرۍ قضائي او اداري ناسته ترسره شوه.

په دې ناسته کې د مرافعه محکمې ټولو قضاتو او اداري کارکوونکو، د ښاري ابتدائیه محکمې او د (۶) ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو قضاتو او محررینو ګډون درلود.

ناسته د قرآنکریم د مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه، وروسته د مرافعه محکمې رئیس محترم شیخ سخیداد(ابوالتقی) د قضاء د ارزښت په تړاو خبرې وکړې او وویل، قضاء د ملا د تیر حیثیت لري، که په یو ملک او هیواد کې قضاء برابره وي هغه هیواد به په ټولو چارو کې کامیاب وي.

دغه راز د مرافعه محکمې رئیس قضات خپلو دندو ته متوجه کړل او وویل، لکه څرنګه چې د حضرت عمر (رضی الله عنه) په زمانه کې قضاء وه، موږ او تاسو مکلف یو چې هغسې قضاء وکړو، هم به امارت کامیاب وي او هم به موږ او تاسو په ټولو چارو کې کامیاب یو.

محترم شیخ سخیداد(ابوالتقی) زیاته کړه، په قضاء کې باید له قومي تعصباتو څخه ډډه وکړو، لکه د حضرت علي(کرم الله وجهه) په وخت کې چې د حضرت علي (کرم الله وجهه) او یوه یهودي ترمنځ دعوه وه او قاضي شریح فیصله د یهودي په ګټه وکړه.

د مرافعه محکمې رئیس د ښاري ابتدائیه او ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو قضاتو او اداري کارکوونکو ته ټینګار وکړ چې سیرت او صورت د شریعت مطابق برابرکړي، د حاضرۍ پابندي وکړي، پر وخت خپلو دندو ته راشي او بېرته په ټاکلي وخت لاړ شي.

نوموړي زیاته کړه چې د نن ورځې کار سبا ته مه پرېږدئ او په خپلو منځو کې باید اتفاق او اتحاد ولرئ، د یوه او بل په چارو کې هیڅ مداخله مه کوئ؛ قاضي، مفتي او محرر باید خپل کار په همکارۍ ترسره کړئ، په خپل منځ کې اخلاص او مینه ولرئ.

محترم شیخ سخیداد (ابوالتقی) زیاته کړه، که موږ په اخلاص سره خپله دنده ترسره کړو، یو طرف به الله(جل جلاله) اجر راکړي، بل خوا به مو خپله اسلامي او شرعي وجیبه په صحیح توګه سرته رسولې وي.

د اروزګان ولایت د مرافعه محکمې رئیس قاضیانو ته سپارښتنه وکړه چې قضائي اصول په پام کې ونیسي، له مراجعینو سره ښه سلوک وکړي او دوسیو ته په خپل وخت رسېدنه وکړي.

ناسته په دعا سره پای ته ورسېده.

## رئیس محکمهٔ مرافعهٔ کندز از امور آمریت حقوق آن ولایت نظارت کرد

به سلسله بازدیدها و فعالیت های همیشگی به تاریخ ١٤٤٤/١٠/١٦ هـ ق محترم مولوی نورمحمد (نوری) رئیس عمومی محکمهٔ مرافعهٔ ولایت کندز از آمریت محترم حقوق محکمهٔ استیناف نظارت نمود.

در جریان نظارت محترم مولوی حضرت نور (حقانی) آمر حقوق و پرسونل مربوطه شان به وظایف محوله حاضر بوده، به کتاب اندراج دوسیه ها، وارده و صادره، به دوسیه های موجود در آن آمریت نظراندازی صـــورت گرفت، حفظ الصحه محیطی مراعات شده بود.

ضمناً محترم (نوری) رئیس عمومی محکمهٔ استیناف پرسونل آمریت حقوق را مخاطب قرار داده در خصوص ارسال و مرسول اصولی دوسیه ها اصحاب دعوی، فهرست دوسیه ها، احاله و ارجاع دوسیه ها به محاکم ذیصلاح در اسرع وقت، سلوک نیک با مراجعین، حفظ بیطرفی در امورات محوله، ثبت دوسیه ها در سیستم دیتابیس، پابندی به اوقات رسمیات صحبت های همه جانبه نمود و به اجرای نکات فوق تأکید بیشتر گردید.

در اخیر آمر حقوق به نماینده گی از پرسونل خویش وعده سپرد که وظایف شان را در مطابقت به احکام شرعی و طرزالعمل های موجود و رهنمائی های سودمند رئیس محکمهٔ استیناف ولایت کندز انجام داده و در راه خدمت و تأمین عدالت سعی نموده و مینماید.

## دکندهار ولایت مرافعه محکمې د دېوانونو د رئیسانو غونډه ترسره شوه

په ١٤٤٤/١٠/١٢ نېټه دکندهار ولایت د مرافعه محکمه کې د دې محکمې د رئیس محترم شیخ عبدالغفار (بحر) په مشرۍ د استیناف د دېوانونو د رئیسانو ترمنځ اداري غونډه ترسره شوه.

غونډه د ترافیکو دېوان د عضو مفتي محترم مفتي عبدالله لخوا د قرآنکریم د څو مبارک آیاتونو په تلاوت پیل شوه، ورپسې په ځینو مهمو اداري مسایلو تفصیلي بحث وشو او په اړه یې لازم تصمیمونه ونیول شول.

دغه راز په دې غونډه کې له محاکمو څخه د راغلو استهداګانو په اړه بحث وشو او د ښه تحقیق اوڅېړنې په موخه راتلونکي غونډې ته معطل شول چې راتلونکې غونډه کې به یې په اړه د شرعي اصولو مطابق تصمیم نیول کیږي.

غونډ د دعاء په ویلو پای ته ورسېده.

## د هلمند د مرافعه محکمې د رئیس په مشرۍ د یاد ولایت محاکمو د مسؤولینو اداري غونډه ترسره شوه

په ١٤٤٤/١٠/١٩ هجري قمري نېټه د هلمند ولایت د مرافعه محکمې ریاست په مقام کې د یادې محکمې د رئیس محترم مولوي محمد نبي (حماس) په مشرۍ غونډه ترسره شوه.

په دې غونډه کې چې د قرآنکریم د مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه، د مرافعه محکمې د ټولو دېوانونو قاضیانو، مفتیانو او محررینو ګډون درلود.

نوموړي د محاکمو د ټولو مسؤولینو ترمنځ پر همغږۍ د مرافعه محکمې رئیس محترم مولوي (حماس) د غونډې ګډونوالو ته وویناوکړه او قضاتو ته یې توصیه وکړه چې که هره دېوان کومه ستونزه یا موضوع درلوده، درې ورځې مخکې دې د اداري ناستې په اجنډا کې د شاملولو په موخه د ریاست مقام ته راوړي، ترڅو موږ ورته اصولي حللاره پیدا کړو.

ټینګار وکړ او وویل، په اداري او قضائي ناستو کې په اجنډا کې د شاملو موضوعاتو په اړه بحث او تحلیل کوو.

دغه راز محترم مولوي (حماس) زیاته کړه، په راتلونکې اونۍ کې به محبس ته څو او د بې برخلیکه بندیانو دوسیې به ګورو، که کوم مسؤول کس په خپل سر بندیان کړي وو له هغه سره به حساب کوو او هغه بندي به له بند څخه آزادوو.

د مرافعه محکمې رئیس وویل، راتلونکو ورځو کې به د ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو بررسي کوو او له ولسوالانو سره به مجلس کوو.

د محترم مولوي (حماس) په خبره، د یو شمېر دېوانونو لکه مدني دېوان چارې چې د نورو په پرتله ډېرې دي، باید نورو دېوانونو ته تحویل کړل شي.

سرپرست مسئوول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
ادیتور : جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

لا إله إلا الله محمد رسول الله

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه خرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## پروان ولایت کې دوو مجرمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د روان ۱۴۴۴ هـ ق کال د شوال المکرم میاشتې په ۲۰مه نېټه د پروان د مرافعه محکمې لخوا دوو مجرمینو ته له «کوره د تېښتې» د جرم په اساس تعزیري سزا ورکړل شوه.

یادو مجرمینو ته د تعزیري سزا د تطبیق په موخه ناسته کې چې د جبل السراج ولسوالۍ په انګړ کې جوړه شوې وه د مرافعه محکمې د رئیس، د ولایتي محاکمو قضائي او اداري کارکوونکو، ولایتي ادارو مسؤولینو او ګڼ شمېر عامو هیوادوالو ګډون درلود.

یادې ناستې ته د مرافعه محکمې رئیس محترم مولوی روح الله «عبدالسلام» ، د پروان محترم والي او یو شمېر نورو مسؤولینو خپلې عالمانه ویناوې وکړې، وروسته د مجرمینو د قضیو خلاصه بیان شوه او یادو مجرمینو ته د محکمې د پرېکړې مطابق تعزیري سزا ورکړل شوه.

دغه ناسته د دعاء په ویلو سره پای ته ورسېده.

## محاکم ولایت جوزجان به دو تن از مجرمین جزای تعزیری تطبیق کرد

به تاریخ ۱٤٤٤/۱۰/۲۰هـ ق در صحن محکمه ابتدائیه ولسوالی درزآب به اساس فیصلۀ محاکم ولایت جوزجان به دو تن از مجرمین به اساس داشتن جرم نکاح نامشروع جزای تعزیری تطبیق شد.

در گردهمائی که بخاطری تطبیق جزای تعزیری به مجرمین ذکرشده راه اندازه شده بود علاوه بر مسؤولین و منسوبین محاکم ولایتی، مدیر حج و اوقاف، مدیر امربالمعروف، ولسوال صاحب، مولوی سیدمحمد قوماندان امنیه ولسوالی درزآب، مسولین امارتی، علمای کرام، ملا حفیظ الله خالد و منصور دادالله مدیر استخبارات ولسوالی درزآب ولایت جوزجان نیز حضور داشتند.

جلسه با تلاوت چندی از آیات قرآنکریم آغاز شد؛ سپس برخی علماء کرام و مسؤولین در رابطه به موضوعات مختلف صحبت نمودند.

این نشست بعد از تطبیق جزای تعزیری با دعائیه اختتام یافت.

## د میدان وردګ ولایت د مرافعه محکمې د رئیس په مشرۍ اداري ناسته ترسره شوه

د روان ۱۴۴۴ هجري قمري کال د شوال المکرم میاشتې په ۱۴مه نېټه د میدان وردګ ولایت د مرافعه محکمې په ریاست کې د یادې محکمې د رئیس ښاغلي مولوي عبدالکریم (حقاني) ترمشرۍ لاندې د ستونزو د حل او همغږۍ د لاپېرښت په موخه اداري غونډه ترسره شوه.

یاده غونډه چې د مرافعه محکمې د دیوانونو سربېره د ښاري ابتدائیه محکمې ټولو مسؤولینو په کې ګډون درلود، د قرآنکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه.

وروسته د مرافعه محکمې رئیس د موضوع په اړه هر اړخیزه وینا وکړه، د غونډې ګډونوالو ته یې د ۱۴۴۴هـ ق کال د ۳۶،۲۶ او ۴۲ ګڼو متحدالمآلونو په تطبیق او د کارونو په چټکتیا ټینګار وکړ.

پر دې سربېره د مرافعه محکمې رئیس د ناستې ګډونوالو ته له مراجعینو سره د ښه سلوک سپارښتنه وکړه.

یاده غونډه د دعاء په ویلو سره پای ته ورسېده.

## د پکتیا د مرافعه محکمې رئیس او ورسره مل پلاوي د زرمت او روحاني بابا له ابتدائیه محاکمو لیدنه وکړه

د روان ۱٤٤٤ هـ ق کال د شوال المکرم میاشتې په ۱۱مه نېټه د پکتیاولایت د مرافعه محکمې رئیس محترم مفتي امان الله (منقاد حقاني) او ورسره مل پلاوي هر یوه مولوي عبدالرحمن (زاهد) د جزا دېوان عضو محرر، مولوي حمدالله (حمیدي) د امنیت عامه دېوان عضو مفتي او قاري میرزامحمد (رشیدي) د تحریراتو آمر د زرمت او روحاني بابا ولسوالیو له ابتدائیه محاکمو څخه جلا، جلا لیدنه وکړه.

په دغه لیدنه کې د پکتیا ولایت د مرافعه محکمې عمومي رئیس د یادو ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو پر قضاتو سربېره له ولسوال صاحبانو، امنیه قوماندانانو، د امربالمعروف مدیرانو او نورو اړوند مسؤولینو سره وکتل.

وروسته یې د یادو ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو محترمو رئیس صاحبانو، مفتیانو او محرر صاحبانو سره ځانګړې ناستې ترسره کړه، د هغوی قضائي او اداري اجراآت یې له نېږدې وکتل.

د لیدنې په جریان کې د مرافعه محکمې رئیس دحاضری، د متحدالمآل مکتوبونو، د مفتي فتوا ورکولو او نورو اړینو موضوعاتو په اړه مفصلې خبرې وکړې، د قضائي او اداري امورو د لابهبود توصیه یې ورته وکړه.

ورپسې د مرافعه محکمې پلاوي په جزائي، حقوقي، مختلف النوع وثایقو او نورو اداري کارونو په اړه ورته لازمي لارښوونې وکړې.

دیادونې وړ ده چې د یادو ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو محترمو قاضي صاحبانو د مرافعه محکمې د رئیس او ورسره مل پلاوي څخه مننه وکړه او ابتدائیه محاکمو ته د دوی سفر یې د چارو د بهبود په موخه ډېرګټور وباله.

## جلسۀ هماهنگی ادارات عدلی، قضائی و اجرائیوی ریاست محکمۀ مرافعۀ ولایت فاریاب تدویر یافت

به تاریخ ۲۰ /شوال المکرم/۱٤٤٤ هـ ق تحت ریاست الحاج مولوی عبدالغنی «سعید» رئیس عمومی محکمۀ مرافعۀ ولایت فاریاب، با اشتراک مولوی حیات الله حلیم رئیس شورای علماء، مولوی نعمت الله ذاکر رئیس دیوان جزاء مرافعه، مولوی محمد یوسف عطائی رئیس دیوان مدنی مرافعه، مولوی عبدالکریم رئیس دیوان امنیت عامۀ مرافعه، مولوی غلام علی رئیس محکمه ابتدائیۀ شهری، مولوی امیرمحمد حقانی رئیس دفتر مقام ولایت، مولوی محمد حنیف منیر رئیس عدلیه، نمایندۀ ریاست محترم استخبارات، نمایندۀ مدیریت محترم جنائی، داملا سردار خالقیار رئیس محبس مرکزی، نمایندۀ ریاست محترم آراضی، رؤسا، قضات، مفتی صاحبان و محررین دواوین استیناف، شهری و برخی محاکم ابتدائیۀ ولسوالی های ولایت فاریاب در تالار جلسات قضائی ریاست محکمۀ مرافعۀ ولایت فاریاب جلسۀ هماهنگی بین ارگان های قضائی، عدلی و اجرائیوی دایر گردید.

ابتداء جلسه با تلاوت آیاتی از کلام الله مجید آغاز گردید؛ سپس الحاج مولوی عبدالغنی «سعید» رئیس محکمۀ مرافعۀ ولایت فاریاب ضمن خوش آمدید به حاضرین جلسه، راجع به اهمیت جلسات همآهنگی میان ادارات عدلی و قضائی در پرتو اصول و فرامین نافذۀ امارت اسلامی افغانستان صحبت نمود گفت که ادارات عدلی و قضائی تأمین کنندۀ عدل و انصاف در جامعه بوده که باید تمام اجراآت شان مطابق شریعت غرای محمدی (صلی الله علیه وسلم)، اصول و فرامین امارت اسلامی افغانستان باشد و غرض حصول نتایج متوقعه و بهتر باید همآهنگی کامل میان ادارات که روابط کاری با هم دارند و جود داشته باشد.

بعداً موضوعات ذیل بررسی و پیرامون آن تصمیم اتخاذ گردید:

۱. رئیس صاحبان محاکم باید همرای همکاران و اعضائی قضائی خویش مشوره و موافقه داشته باشند و بعداً تصمیم اتخاذ نمایند.

۲. هر وقتیکه محکمۀ مرافعه از محاکم محترم ابتدائیه معلومات و یا جلب مدعی و مدعی علیه را هدایت میدهد، باید بطور کامل و در وقت معین جواب ارائه گردد.

۳. فیصله های منقوضه باید بدون تأخیر اصلاح شود، برای شان حق اولیت داده شود.

٤. رئیس صاحبان با مراجعین خود الفاظ زشت استعمال نکنند و توازن بین مدعی و مدعی علیه باید در محاکم وجود داشته باشد.

٥. قاضی صاحبان باید در موجودیت طرفین الفاظ استعمال نکنند که طرفین به فیصله صادره محاکم شک نمایند.

٦. اگر فیصله محاکم بنابر اقرار بود، واضح نوشته شود و همچنان دو نفر شاهدین بالای اقرار باشند.

۷. در هر موضوع باید قرار صادر نشود، فیصله واضح و مستدل صادر شود.

۸. فیصله های منقوضه باید واضح نوشته شود.

۹. طبق فرامین، متحدالمآل ها و اصول محاکم اجراآت صورت گیرد.

۱۰. احترام محاکم برای اوامر و هدایات محاکم بلند و مکلف نمودند خود به احکام محاکم و تطبیق آنها.

۱۱. در مورد درخواست بندی از بندی خانه محاکم و ریاست محبس بین خود همآهنگی و همکاری داشته باشند.

در ادامه از سوی مولوی حیات الله حلیم رئیس شورای علماء ولایت فاریاب برخی موضوعات مرتبط بحث همه جانبه صورت گرفت.

در اخیر بعد از ارائیه نظریات و پیشنهادات حاضرین جلسه مطرح و بخاطر راه حل آن هدایات و توصیه های لازم داده شد.

جلسه با دعاء خیر و فلاح ملت خاتمه یافت.

## رئیس محکمۀ مرافعۀ غزنی از دواوین مرافعه و محکمۀ ابتدائیه شهری آن ولایت بازدید کرد

محترم الحاج شیخ محمد قسیم «محمدی» رئیس محکمه استیناف ولایت غزنی به تاریخ های ۱٦و۱٤٤٤/۱۰/۱۷هـ ق از دواوین محکمۀ مرافعه بازدید نمود.

محترم الحاج شیخ محمد قسیم «محمدی» طی این بازدید روند اجراآت قضائی و اداری دواوین و محکمۀ شهری را بررسی نموده و از کارکرد مسؤولین اظهار رضایت نمود.

موصوف در راستای خدمت گزاری به خلق الله و ایجاد سهولت برای مراجعین توصیه های لازم نموده و راه کارهای مناسب را جهت تنظیم امور و سرعت در اجراآت دواوین و محکمۀ ابتدائیه شهری ارائیه کرد.

همچنان رئیس محکمۀ مرافعه مشکلات مربوطه را یاداشت نمود، در خصوص حل آن به مسؤولین هدایت داد.

میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته : ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publication@supremecourt.gov.af

www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳٦۱ ۰۲۰۲۳۰۲۲٦۳